# په فولکلوري ادب کښې
# د رزمیه غاړو تحقیقي او تنقیدي جائزه

محب الله کاکړ*
فیض الله خان*

**Abstract:**

Kakarai Ghari; A folkloric genre of Pashto literature has deep roots in the history and is traced to the Aryan period. It covers the traditional life style and cultural aspects of the regions besides historical incidents of the people from where it emerged.In this paper the authors focused the "Razmia " aspect of Kakari ghari and have thoroughly elaborated it by highlighting the historical war related kakarai. By the way very significant historical incidents have been pointed out through folkloric genre Kakarai.

رزم د فارسي ژبې توری دی چې د جنګ. جدل بې امنۍ په معنی کښې کارول کېږي. په فیروزالغات اردو ډکشنرۍ کښې د رزم توری داسې معنٰی ورکوي.

"رزم: مونث صیغه، جنګ.

**رزمیه**: رزم سی نسبت رکھنی والا جنگی داستان یا نظم "(۱)

**ژباړه**: له رزم څخه مراد د جنګ داستان یا نظم.

رزم هغه داستان یا نظم ته وائي چې په هغه کښې د جنګ خبرې وي.

په ادبي اصطلاح کښې د رزمي ادبیاتو څخه مراد هغه ادبیات چې په کښې د جنګ خبرې وي، چې رزم جنګ جدل بې امنۍ چاودنې د بېروني قوتونو یرغل ته وئیل کیږي. چې کله دا قوتونه پر یو هېواد، قوم باندې یرغل وکړي پر هغهٔ قوم باندې ظلم شروع کړي نو ټولنه هېڅ کله هم هغه قوت نهٔ بخښي بلکې د هغهٔ په بېلا بېلو طریقو سره غندنه کوي. او هغه په ادب کښې یادوي ولې چې دا هم د داخلي احساساتو او جذباتو یوه اهمه څرګندونه وي چې د ادبي فنپارې په شکل کښې د تخلیق کار له داخل څخه راوزي.

سید خیر محمد عارف په خپل کتاب "د غاړو ادبي څېړنه" نومي کتاب کښې د رزمیه شاعري داسې تعریف کړی دی.

* M.Phil Scholar Department of Pashto University of Balochistan Quetta.
* Professor, Department of Pashto University of Balochistan Quetta.

"په ادبي تذکيرو کښې دا خبره په وار وار وينو چې رزميه شاعري تر ټولو ښه او غوره ډول دی، دې شاعرۍ ته په انګرېزي کښې د پوئم ايپک نامه ورکړل شوې ده. ځينې څېړنوال دا خبره هم په ګوته کوي چې اهل يورپ (هومر) په دا سوب تر ټولو لوی او ښۀ شاعر بولي چې دۀ و رزميه شاعرۍ ته دوام ورکړی دی"(۲).

و پښتون قام ته خدای پاک داسې جغرافيه ورکړې ده چې د هم دې جغرافئې له کبله پښتون همېشه د پرديو يرغلګرو له رزم سره مخامخ دی. ولې چې مونږ د قام ماضي او حال دواړه په جنګ کښې تېر شوي او روان دي.

د پښتو ادب پس منظر ته که وګورو، نو د پښتو ژبې اول ليکل شوی نظم د امير کروړ رزميه نظم دی. دا د دې خبرې ثبوت دی چې د پښتو ادب ابتدا هم له رزم څخه شوې ده. د هغۀ مشهور نظم نمونه څۀ په دې ډول ده:

"زۀ يم زمری په دې نړۍ له ما اتل نۀ شته
پر هند سند او پر تخار او پر کابل نۀ شته
پر بل زابل نۀ شته، له ما اتل نۀ شته."(۳)

ادب او رزم يو له بله سره تړلي او وره په وره روان دي. په يو قام يا علاقه چې ظلم شوی وي نو له ځوانانو سره سره پښتنو پېغلو او مېرمنو هم هغه غندلی دی. ټپې او غاړې ئې پسې جوړې کړې دي. دلته مونږ دمېوند د ملالۍ. د هغو ټپو نه به يو څو ټپې د نمونې په توګه وړاندې کوو کومې ټپې چې دوی د جنګ او رزم په وخت کښې د شازلمو د جذبو او ولولو پارولو دپاره وئيلې وې او هم دغه ټپې وې چې له کبله ئې يو بايللی جنګ وګټل شو:

"که په ميوند کښې شهيد نۀ شوې
خدائږو لاليه! بې ننګۍ ته دې ساتينه
ته په ميوند کښې ځان شهيد کړه
زۀ به سور شال ستا پر زيارت وځړومه"(۴)

ملالۍ و جنګياليو ته د جنګ په ميدان کښې حوصله ورکړې ده او دا ټپې ئې ورباندې وئيلې دي.

د پښتون پر پاکه خاوره چې هر کله دښمن يرغل کړی دی نو پښتنو زلميانو د هغو ارادې په خاورو ګډې کړې دي. پښتنو مېرمنو او کاکړو پېغلو هغه نوميالي چې د يرغلګر په خلاف جنګېدلي دي هغوی ئې په غاړو غاړو کښې ژوندي ساتلي دي.

دلتــه مــونږ د ســاوڼ موسٰی خیــل پــه حوالــه څــو غــاړې را اخلــو. د ســاوڼ موسٰی خېــل پــه حقلــه معلومــات د تــاریخ بــېلا بېلــو کتــابونو ورکــړي دي چــې کلــه د شــلمې پېــړۍ پــه اوایلــو کښــې انګرېزانــو د پښــتنو ســیمو تــه لاســونه را وغــزول او ایســټ انډیا کمپنــۍ پــه شــکل کښــې ئــې دلتــه خپــل تســلط راوســتل غوښــت نــو پــه هغــه دور کښــې د پښــتنو مشــرانو او کشــرانو پــه نــره توګــه د دښــمن مــخ نیــولی دی، ســاوڼ موســٰی خېــل او د هغــهٔ زوی دواړه د انګرېزانــو خلاف جنګېدلي وو. د ساوڼ موسٰی خېل په اړه رائې چې:

"د دهٔ خپل نوم ساوڼ موسٰی خېل او د پلار نوم ئې دولت په قام بېل خېل، حسن خېـل، موسٰی خېل ؤ کور ئې په تکړي موسٰي خېل کښې وو. پلار ئې موسٰي خیلو څخه د مرانیو علاقې ته تللی وو د ساوڼ زېږېدنه هم په مرانیو کښی ښوې وه. وروسته ساوڼ لـه خپـل پـلاره سره ملک پاندن کیبزئي ضلع ږوب ته را کډه شو. له دغه ځای څخه علاقه غېر او له هغه ځایه غزني تـه ولاړ. که څهٔ هم ساوڼ او د هغهٔ پلار په ابتدا کښې د خپلوانو لـه بـد سلوکي څخه ستړي شوي او فـراره شوي وو. خو وروسته د انګریز Divide and Rule پالیسـي او نـاحق خنډ جوړولو ساوڼ دې تـه مجبور کړ چې د پس پرده قوت ملا ماته کړي."(۵)

"مه د غرهٔ څوکې بې تا شه
مه د خپل کښېوزه ساوڼه
بازار بند دروازې پورې
چې ساوڼ موسٰی خېل شوري"(۶)

هــر کلــه چــې مــونږ د پښــتنو د بهــادري او د غېــرت خبــري کــوو خــو ودې خواتــه هېڅـوک هـم پاملرنـه نـهٔ کـوي چـې پښـتون لـه غېـرت سـره دغـومره ذلیـل هـم دی. غښـتلی پښـتون هـر کلـه د بـزدل تربـره لـه وجـې و دشـمن تـه پـه لاس ورکـول شـوی لکـه څـهٔ رنګـه چـې ســاوڼ موسٰــی خېــل، شــېر جــان جــوګیزی او دغســې نــور ډېــر غېرتــي پښــتانهٔ و دښــمن تــه پــه لاس ورکول شوي دي. او خپله تنخوا یا د لېویز نوکري ئې تر لاسه کړې ده.

"الو ساوڼ کښې باسي
کور د بل له ایلې باسي
الو ساوڼ پیسې کۍ
خپل ځړونکي دی چې پرې کۍ
دلته نهٔ شته پښتونواله
ساوڼ باسي له بازاره"(۷)

په دې غاړو کښې ځای په ځای د آلو ذکر راغلی دی، آلو هغه سړی دی چا چې و ساوڼ موسٰی خېل ته دهوکه ورکړه. د ډوډۍ په نیت ئې بوتلې او انګریز سرکار ته ئې په لاس ورکړ چې په ټولنه کښې دا ډېره د بې ننګۍ خبره وه د دې ذکر په غاړه کښې داسې شوی دی:

"تر دا زر روپۍ انعام
تا له تربور ببه وی شېر جان"(۸)

په دې غاړه کښې هم ترلې و تربور ته پېغور ورکړی دی چې تر زر ۱۰۰۰ روپې ستا دپاره شېر جان غوندې لېؤ او غېرتمن تربور ډېر زیات ښۀ وو. بې ننګه تا خو زر روپۍ واخستې او شېرجان دې په دار وځړاوو.

دغسې په زړګونو رزمي کاکړۍ غاړې شته چې د ترلو او زلمیانو له خواه څخه زمونږ پر ننګیالیو باندې وئیل شوې دي کله چې انګرېز یرغلګر زمونږ پاکې خاورې ته راغلي دی نو په کاکړۍ غاړو کښې د هغو ډېره غندنه شوې ده. یو څو دلته د نمونې په توګه راوړم.

"د دښمن زړګی په سوړ شو
سپین کفن پر فاطۍ خور شو
په خپل کار کښې زړور وو
عجب خان د پولیس افسر وو
رغ را وکه تر ډورۍ
نواب یکړ پر دنیا سوی*

په کاکړیو غاړو کښې د رزمیه غاړو برخه ډېره زیاته ده، کله چې زمونږ پر وطن باندې دښمن یرغل کړی دی. نو کاکړانو پښتنو هغه هېڅکله نۀ دی بخښلی او په کاکړیو غاړو کښې ئې د هغۀ غندنه کړې ده. یرغلګر ئې ظالم او وطني هیروګان ئې مظلومان او وطن دوسته خلګ ثابت کړي دي.

یعنې لکه څرنګه چې برصغیر لره انګریزان راغلي دي او زمونږ پر وطن ئې یرغل کړی دی، نو دلته د پښتنو زلمیانو خپله وینه په تاو کښې ایستلو سره د انګرېز په ضد مبارزه پیل کړه. چې هغه بیا په ډېره وخت چلیده انګریز سرکار به و هغۀ ته د غدار

*دغه غاړې ما په یوه انټرویو کښې له شاه فیصل د پلار نوم عبدالصمد کلي رېلوې سټېشن تورا غبرګي کلي مرغه ذکریا زئ څخه اخستې دي.

لقب ورکړ. خو زمونږ ټولنې هغه د انګريز ټول غداران د خپل قام د آزادۍ هيروګان ګرځولي دي. د دوئ و مبارزو ته ئې د قدر په سترګه کتلي دي. د هغوئ ملګري ئې کړې ده. په جنګو کښې ورسره شامل شوي دي. حتٰی چې انګريز تنخوا خواره ايجنټان ئې تر انګريز حکومت هم ډېر ذليل ګرځولي دي. او ډېر سخته پېغورونه ئې ورکړي دي.

لکه ننګيالي بځرکي چې په کتاب کښې ودې غاړې ته اشاره کړې ده.

"نۀ پالي سوې نۀ شېر جان
سپيه تنخوا خورې د بل قام"(۹)

دا غاړه کاکړې ترلې پر هغه بې ننګه ځوان باندې وئيلې ده، چا چې له تودې ښځه جانان جلا وطنه او و انګريز سرکار ته ئې مخبري کوله او يا هغه څوک چا چې شېرجان په دهوکه نيولی وو او انګرېز سرکار ته ئې په لاس ورکړ خپله تنخواه د لېويز نوکري ئې پخه کړله. نو پښتنو مېرمنو د دۀ د بې ننګۍ په باب دغه غاړه وئيلې ده.

"غلي شو لکه سويان
د شپېلۍ دړغ شو د جانان"(۱۰)

دا غاړه هم د کاکړو مېرمنو له خواه وئيل شوې ده په دې غاړه کښې مېرمنې جانان وينې چې خپله شپېلۍ وهي روان او دلته چې د ګورګه خلګو، فوجيانو وليد چې جانان را روان دی هغه غلي شو او ځان ئې پټ کړ چې چېرې جانان حمله را باندې و نۀ کړي، مړۀ مو نۀ کړي او جانان به شپېلۍ ځکه وهله ولې په غرو کښې يکې يکړ ګرځېدی او د ساتيري دپاره به ئې وهله او يوه بله کاکړۍ غاړه ده چې په اولس کښې ډېره مشهوره ده:

لاس بې خود پر مړوند لوړي
ننواتې ئې نۀ قبلېږي

د دې رزمي کاکړي غاړې پس منظر څۀ په دا ډول دی په يوۀ کلي کښې بد کاري شوې وه نو بيا ئې هغه بدکاره سړی په ډېر ظلم سره وژلی وو. د اور داغونه ئې ورکړي وو. د ښځې پلارګنۍ ننواتې کړې وه چې نۀ وه قبوله شوې په آخر کښې ئې ښځه هم مړه کړه.

بيا يو وخت دغه ملک په وادۀ روان وو، ټکان ئې کول، د دۀ د توپک چرې پر يوه پرشه نښتې وې او بېرته پر دا ملک باندې برابرې شوې او لاسونه ئې غبرګ ځنې يووړل. او په لاسو ګوډ سو نو پښتنو مېرمنو دا غاړه ورباندې ووئيله.

د دې ملک نوم ملک خدای رام کاکړ تر غزئي سلېمانخیل پیرولی وو.

پروفیسر غني خان غنو په خپل کتاب کښې یوه رزمي غاړه لیکلې ده چې له اصلي شکله څخه څۀ غلطه ده. (احسان الله د پلار نوم الله داد کلي تورا غبرګي مرغه ذکریازئ)[a]

"اوس دي خوښ دی شېر علي
چې کډل ډکي په ګورګي"(۱۱)

په دې غاړه کښې محترم د "کډل" توری کارولی دی چې دا توری په اصل کښې غورلم دی چې د یوې علاقې نوم دی، په دې کښې سردار شېرک جنګ کړی وو او ډېر انګرېزان ئې وژلي وو. اصل غاړه داسې ده.

"اوس د خوښ دی شېرعلي
چې غورلم ډک کي په ګورکي"(۱۲)

دغسې د پښتنو مېړنیو په قطار کښې یو اهم نوم د ژړك خان دی، د ژړك خان په اړه هم ډېرې رزمیه غاړې موجودې دي، د هغو غاړو تر راوړلو له مخه لږ د ژړك خان په اړه وئیلی شو چې:

*"نوم ژڑک خان والد کانام عبدالوهاب خان دادا کا نام محمد عثمان خان پر دادا کا نام صمیم خان او سر دادا کا نام شادی خان تھا۔ آپ قبیلے کے لحاظ سے افغان کے مشہور قبیلے کاکڑ سنٹیا ایسہ خیل (عیسیٰ خیل) چرمی، جنگزئی سے تعلق رکھتے تھے"(۱۳)*

ژباړه: د دۀ خپل نوم ژړک خان د پلار نوم عبدالوهاب خان د نیکۀ نوم محمد عثمان د غور نیکۀ نوم ئې صمیم خان او اول نیکۀ ئې شادی خان وو. دی په قام د پښتانۀ مشهوره قبیلې کاکړ سنتیا عیسٰی خېل چرمی، په چرمي کښې له جنګزئي سره ئې اړه درلوده.

شېخ ژړک په اصل کښې د کلي چرمیان ضلع پښین تحصیل خانوزئي په مشرق کښې یو خاص علاقه ده چې نوم ئې چرمیان دی په چرمي کښې څلور کوشنۍ پښې دي (۱) جنګیزئي (۲) مد خانزئي (احمد خان زئي) (۳) اسماعیل زئي (۴) عزیزی، غني خان غنو هم دې جنګ زئي شو ولیدې.

د شېخ ژړک ابا و اجداد له چرمیان څخه لورالائي ته تللي وو. ژړک خپله په لورالائي کښې زېږېدلی دی او له انګریزانو سره په ډېرو جنګو کښې جنګېدلی دی، نوم ئې ګټلی دی چې کاکړو مېرمنو هغه په غاړه کښې ژوندی پاته کړی دی، لکه:

"هره ورځ ورځي ډېټي
پر وارېزې ناست دی هوډي
شېخ ژړک د اور بټي
تور خېل بې خوئي په رڼا تلي"
ته چې ځې امیر ولکې له
وارېزي ببر ته تور خېله
ژړک راوستی غدۍ
تیاره ګل نۀ ده ماخۍ
واک د ګردي دنیا ورکړ
شېخ ژړک ببرته را غبرګ کړ
پر مخ نۀ ځي ملېشې
ژړک نیولګي دي ولکې"(۱۴)

پښتنو مېړنو تـه د انګرېـز پـه خـلاف پورتـه کېـدو بانـدې ډېـر نـاوړه نومونـه هـم ورکـړل شـوي دي او دا هـم د انګرېـز يـو ډول حربـه وه چـې د خلکـو ذهـن بـه ئـې داسـې جـوړاؤ چـې دغـه مېړنـي د قـانون يـا نـورو اصـولو خـلاف روان دي ځکـه بـه ئـې و دې اتلانـو تـه د غـدارانو نومونـه ورکـول چـې پـه اصـل کښـې دوی د انګرېـز سـرکار وفـادار نـۀ وو، او پـه خپلـه پاکـه خـاوره ئـې پـردي ناپاکـه ګامونـه او نـاوړه ارادې نـۀ قبولـولې نـو ځکـه دوئ غـدادارن وو. مـونږ لـره پـه کـار دی، چـې پـه هـر وخـت کښـې د خپلـو اتلانـو کارنـامې وسـتايو او يـوه داسـې کارنامـه چـې د تـاريخ برخـه جوړېـدای شـي بايـد چـې نـۀ ئـې پرېـږدو او د تـاريخ پـاڼو تـه ئـې وسـپارو، او زمـونږ را روان نسـلونه بـه د دوئ پـه قربـانيو فخـر کـوي او کلـه ئـه هـم هېـر نـۀ کـړي، ولـې د وخـت لـه تېرېـدو سـره هغـه سـپين ږيـري لـه منځـه ځـي کـوم چـې د دغـو شـازلمو پـه حـالاتو خبـر دي او د دوی کارنـامې ئـې پـه خپلـو سـترګو ليـدلې دي. لـه دغـو مشـرانو او سـپين ږيـرو مـونږ پـه ښـکاره توګـه معلومـات تـر لاسـه کـړو او د کاغـذ پـرمخ ئـې راوړو. د مبـارزينو خبـرې هـم ورو پـه ورو زمـونږ لـه ټـولني ځخـه ځـي. لکـه څرنګـه چـې اتـۀ څلويشـت کالـه د مخـه صـاحبزاده حميـد الله صـاحب وئيلـي دي چـې تـر ننـه پـورې پنځـوس زره غـاړې جوړې شوې دي. خو زمونږ په لاس کښې نۀ شته. په دې اړه وينو چې:

"دا لنـډۍ لـه نـورو ټپـو څخـه يـو جـلا او بېـل شـی دی لـومړی وار کـاکړو ښـلولې دي. ډېـره زياتـه برخـه ئـې دوی جـوړه کـړې ده. دا لنـډۍ لـه هغـه وختـه راهيسـې ډېـرې شـوې

دي. دا رنګه زیات و کم پنځوس زره لنډۍ تر ننه جوړې شوې دي. دا ګردي لنډۍ سره را یو ځای کول او د پښتنو مئینانو ته وړاندې کول ډېر ګران کار دی"(۱۵).

له مونږ سره اوس هېڅ هم په لاس کښې نهٔ شته هم دغه رنګه زمونږ ملي اتلان هم زمونږ د لاسه وزي او را څخه ورک به شي. بائد چې مونږ د دې کار دپاره ملا وتړو. او زمونږ ادبي ټولنې په دې کار کښې غټ کردار لوبولی شي. زهٔ خپله چې دا کار کوم د ډېرو ستونځو سره مخامخ یم. یو خو دا چې حالات داسې دي چې پر اولس باندې خوف دی وېرېږي د خوف له کبله و چاته حال نهٔ شي وئیلی. او وایي داسې نهٔ وي چې سبا و ما ته له دغو معلوماتو درکولو غم جوړ نهٔ شي نو ولې خپله پښه په خپله په کولنګ ووهم، پښتانهٔ وایي د بل غم تر واورهٔ سوړ دی. ما خپله په دې کار کښې د بېلا بېلو علاقو دورې وکړې. د ملي مبارزینو په باره کښې چا چې خاص تعاون نهٔ کولئ او د شک په بنیاد ئې له ما څخه بېلا بېل سوالونه کول. د ټولو رائیو څخه دا معلومه ده چې دوئ د مسلو د پېښېدو څخه وېره لري، په دې وجه ئې ما ته په تفصیل سره معلومات را نهٔ کړل، نو ما اکثره معلومات له کتابونو څخه را ټول کړي دي او ستاسو مخې ته مې ایښي دي.

**پایله** : په دې مقاله کښې د رزم او د رزمیه کاکړیو غاړو بحث دی. رزم او کاکړۍ غاړې یو له بل سره ډېر مضبوط تړون لري، کله چې پر کاکړیو غاړو باندې د لیک خبره وشي نو رزم به ضرور ورسره وي. ولې چې په کاکړیو غاړو کښې همېش د ظلم غندنه شوې ده او د هر ډول یرغلګر غندنه شوې ده. او بله خبره دا ده کله چې مستشرقین برصغېر له راغلي دي. نو دلته د سهېلي پښتونخوا د غېرتي پښتنو وینه په تاوکښې راغلې ده او مبارزه ئې پېل کړې ده. د دغو مبارزینو پر غېرت ټولنې هغه که نارینه دي که ښځینه وي. هر چا خپله حصه په کښې اخستې ده. او مبارزین ئې هیروګان ګرځولي دي. په پښتني غېرتي ټولنه کښې داسې تنخوا خواره هم شته چې د څو پیسو په لالچ یا د ملکي، خانۍ، سردارۍ او د لېویز نوکرۍ په غرض هر کله مونږ ملي مبارزین او اتلان ئې په دوکه باندې سرکار ته په لاس ورکړي دي او خپل مراعات ئې اخستي دي. زمونږ ټولنې د داسې تنخوا خورو او د انګریز په یوه تله کښې اچولي دي ځکه چې انګریز د دوی پر سر پر دې وطن ظلمونه کړي دي. ډېر خوار او ذلیل ئې ګرځولي دي حتی چې د سپیو په نامه ئې یاد کړي دي.

## حوالې

(۱) فیروز اللغات، نیا ایڈیشن سنز فیروز لاہور، ص304.
(۲) عارف، سید خیر محمد ، د غاړو ادبي څېړنه، پښتو ادبي ملګري لورالائي،
۱۹۹۵ء، مخ ۵۱-۵۲
(۳) هوتک، محمد بن داود ، پټه خزانه دوئم چاپ، قندهار، ۱۳۳۹هجري، مخ ۳۴
(۴) بخرکی، ننګیالی، د افغان انګلیس په درو جګړو کښې رزمي ادبیات،
د احمد شاه بابا علمي ادبي ټولنه هالینډ، ۲۰۰۶ء مخ ۱۰۶-۱۰۷
(۵) عارف، خیر محمد ، زمونږ غازیان او شهیدان، پښتو اکېډمی کوټه، ۲۰۰۰ء، مخ ۱۴۲
(۶) غنو ، پروفیسر غني خان، سرفروشان جنوبي پښتونخوا ،
پبلشرز دوست محمد پبلشرز کوټه، سال اشاعت ۲۰۱۳ء، مخ ۱۲۵
(۷) کاکړ، سیال، کاکړی، اسلامیه پریس کوټه،۱۹۷۳مخ ۱۰۰
(۸) حمید الله، صاحبزاده، کاکړی لنډۍ، پېښور، ۱۹۶۷مخ ۸۵-۷۵
(۹) بخرکی، ننګیالی، د افغان انګلش په درو جګړو، کي رزمي ادبیات، مخ ۱۶۸
(۱۰) کاکړ، سیال، کاکړی، مخ۴۲
(۱۱) غنو ، پروفیسر غني خان، سرفروشان جنوبي پښتونخوا ، مخ ۹۷
(۱۲) عارف، سید خیر محمد ، زمونږ غازیان او شهیدان، مخ ۲۵۰
(۱۳) غنو ، پروفیسر غني خان، سرفروشان جنوبي پښتونخوا ، مخ۱۰۴
(۱۴) عارف، سید خیر محمد ، زمونږ غازیان او شهیدان، مخ۱۷۷،۱۷۶،۱۷۵
(۱۵) حمید الله، صاحبزاده، کاکړی لنډۍ، مخ۷۰۶